**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د اسلامي خاورو د دولتونو په اوردو کې ګډون**

**(ژباړه)**




**پوښتنه**

اسلام عليکم ورحمِة الله وبرکاته!

محترم شيخ صاحب! ايا د اسلامي خاورو د دولتونو په اوسنيو پوځونو(اردو) کې کار کول او ګډون روا دي؟ په داسې حال کې، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث د ظالمو حکامو په لښکرو کې ګډون منع کړی دی او ايا له ظالمو حکامو سره جګړه او ورځخه طلب نصره رواهده او که نه؟

**ځواب**

**وعليکمالسلامورحمةاللهوبرکاته!**

له ابو سعيد خدري او ابوهريره رضی الله عنهما څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«لَيَأْتِيَنَّعَلَىالنَّاسِزَمَانٌيَكُونُعَلَيْكُمْأُمَرَاءُسُفَهَاءُيُقَدِّمُونَشِرَارَالنَّاسِوَيَظْهَرُونَبِخِيَارِهِمْوَيُؤَخِّرُونَالصَّلاةَعَنْمَوَاقِيتِهَا،فَمَنْأَدْرَكَذَلِكَمِنْكُمْفَلايَكُونَنَّعَرِيفًاوَ**
**لاشُرْطِيًّاوَلاجَابِيًاوَلاخَازِنًا»**

(رواه أبويعلى اورجاله رجال الصحيح خلا عبدالرحمن بن مسعود وهو ثقة)

ژباړه: *پر خلکو به داسې وخت راشي، چې اميران به يې بېعقل او پيشوايان به يې تر ټولو بد خلک وي او خلک به د دوی په غوښتنه خپل نظر څرګندوي او لمونځ به په خپل وخت نه کوي. نو کهله تاسو څخه څوک له دې زمانې سره مخ شول ، بايد يې وکيل، عسکر يا سرتېری، د مال راټولوونکی او ساتونکی(متعمد) نشي.*

د کنزالعمال په يو بل روايت کې له ابوهريره رضي الله عنه څخه داسې راغلي:

**«...فَمَنأَدْرَكَهمْ فَلا يَكُوْنَنَّلَهُمْعَرِيفًاوَلا جَابِيًا وَلاخَازِنًا وَلا شُرْطِيًّا»**

**ژباړه:** *نو که له تاسو څخه څوک له دې زمانې سره مخ شول، قطعاً د دوی وکيل، د مال راټولوونکی، ساتونکی(متعمد) او عسکر يا سرتېری نشيئ.*

د دغې موضوع په اړه څېړونکي ته لاندې مسايل څرګندېږي:

۱ـ د ابويعلي په حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ظالمو بېعقلو حکامو تر حکم لاندې له دغو څلورو کارونو څخه په مطلق ډول منعه کړې ده. د کنزالعمال په روايت کې هم په ځانګړي ډول‌له دغو څلوروڅېزونوڅخهمنعه کوي. لکه څنګه چې په حديث کې د(لهم) لفظ ياد شوی او په دغه ځای کې لام د تخصيص لپاره دی، نو د دغو امراوو پر ساتنه او هغوی ته د مال پر ټولولو او زېرمه کولو نهی(منعه) شوې.

په دغو دوو حديثونو کې مطلقه منعه پر هغو خلکو؛ يعنې مطلقه منعه پر هغه وکيل، د مال پر راټوونکي او ساتونکي نه ده، چې په داسې دولت کې چې پر اسلام حکم نه کوي کار کوي؛ بلکې له دغو څلور کارونو څخه نهی د هغو کسانو لپاره ده، چې له دغو حکامو سره کار کوي او ځانګړي کسان(ساتونکي) يې دي.

۲- څوک چې د ظالمو او بې بېعقلو چارواکو پر حکم راضي کېږي، ګنهکارېږي، که دنده يې په اوردو کې وي يا په غير اوردو کې؛ ځکه د هغو چارواکو د تغير لپاره، چې اسلامي نظام نه تطبيقوي هڅې نه کول، له اعمالو يې انکار نه کول او له هغوی څخه راضي کېدل دا ټول د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې لويه ګناه ده. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«سَتَكُونُ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ، فَمَنْ كَرِهَفَقَدْ بَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَفَقَدْسَلِمَ،وَلَكِنْمَنْرَضِيَوَتَابَعَ.»**

(رواه مسلم)

ژباړه: *ډېر ژر به داسې حکام ولرئ، چې هغوی به پېژنئ او بد به يې بولئ، نو چا چې بد وبلل خلاصون يې پيدا کړ او څوک چې ناراضه وو روغ پاتې شول. افسوس پر هغو، چې ترې راضي شول او پيروي يې وکړه.*

۳ـ طلب النصره له هغو کسانو څخه کېږي، چې د قدرت خاوندان وي. فرق نه کوي، چې د ظالمو چارواکو په ساتنه کې وي یا نه وي؛ ځکه د تغیر موخه همغه ظالم او بېعقل حاکمان دي، چې اسلامي نظام نه تطبیقوي او طلب نصره ورڅخه روا ده، د هغه فاسد نظام چې پکې کار کوي د واقعیت له بیان ورسته،پکې تغیر واجب دی. هر کله یې، چې قناعت وکړ او د الله سبحانه وتعالی او د رسول صلی الله علیه وسلم لپاره یې دغه امر ومنلو، له شک پرته دا عمل یې ستر کار دی. که چېرې یې له خپل دغه موقف څخهد اسلامي نظام( خلافت) په تاسیس کې استفاده وکړه، الله سبحانه وتعالی به یې د ستر اجر خاوندان کړي.

لکه څنګه، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بهد کفارو بېلابېلو قبیلو ته ورته او اسلام ته به یې را بلل، تر څو یې پر بما انزل الله باندې د حکم کولو لپاره طلب النصره ومني. همدارنګه د هغو کسانو حکم، چې د ظالمانو په اوردو کې کار کوي په هغه وخت کې ترې طلب النصره روا ده ، چې حق ومني او له ظالمانو څخه د انکار او د هغوی د تغیرولو لپاره پر شرعي حکم پوه شي او د تیارسۍ په حال کې وي.

۴ـ هو، د ظالمو حکامو تر څنګ جګړه په هغه وخت کې، چې جګړه له کفارو سره وي نه له مسلمانانو سره، روا ده؛ ځکه جهاد په ټولو حالاتو کې د مسلمان حاکم تر حاکمیت لاندې پر مسلمانانو فرض دی. په دغه حالت کې فرق نه کوي، چې مسلمان حاکم نیکو کاره وي یا بد کاره، دا هم هغه وخت سم دی، چې جګړه له کفارو سره وي؛ ځکه د جهاد ایات په مطلقه توګه راغلي نه په مقیده. لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمایلی دي:

﴿وَمَالَكُملَاتُقَاتِلُونَفِيسَبِيلِاللَّهِ﴾

[نساء: ۷۵]

ژباړه: *پر تاسې څه شوي، چې د الله تعالی په لاره کې جهاد نه کوئ.*

﴿الَّذِينَآمَنُوايُقَاتِلُونَفِيسَبِيلِاللَّهِ﴾

[انساء: ٧٦]

ژباړه: *مومنان شته چې د الله تعالی په لاره کې جهاد کوي.*

﴿فَلْيُقَاتِلْفِيسَبِيلِاللَّهِالَّذِينَيَشْرُونَالْحَيَاةَالدُّنْيَا﴾

[نساء: ۷۴]

ژباړه: *د الله تعالی په لاره کې باید هغه خلک جګړه وکړي، چې د اخرت لپاره د دنیا ژوند پلوري.*

ډېرداسې ایتونه شته، چې د حاکم شرط یې ظالم او غیر ظالم نه دی ښوودلی، خو تر هغه وخته چې د کفارو پر وړاندې جهاد وي. لکه څرنګه چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له احادیثو څخه په ډاګه کېږي، چې د ظالم حاکم شتون د کفارو پر وړاندې جهاد نه منعه کوي، یعنې د ظالم حاکم تر څنګ د کفارو پر وړاندې جهاد روا دی. له انس رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«وَالْجِهَادُ مَاضٍ مُنْذُ أَنبَعَثَنِىاللَّهُإِلَىأَنْيُقَاتِلَآخِرُأُمَّتِىالدَّجَّالَ، لاَ يُبْطِلُهُ جَوْرُ جَائِرٍ وَلاَ عَدْلُ عَادِلٍ»**

(سنن الکبری بیهقی۲٦۳/۹)

ژباړه: جهاد *له هغه وخت راهیسې ، چې الله تعالی مبعوث کړم تر هغه وخته، چې وروستی امت مې دجال ووژني ادامه لري.*

*یوه شئ، چې د هېڅ ظالم ظلم او د عادل عدل جهاد نشي باطلولی.*

**ستاسو ورور عطاء بن خلیل ابو رشته**

**۱۴۲۴هـ.ق، د جمادي الاول۲۰مه**

**۲۰۰۳م، د جولای ۲۰مه**

**ژباړن: شجاع**